

## زمادعشق د لوبېدلو کلی

# خدايه! ودان لري دښکلو کلی

سردار محمد (صديقي)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : خدا یه ودان لر ي دښکلو کلی
شاعر: سردار محمد (صدیقي)
کمپوز : عطامحمد(سیلاب
ډیزاین : عبدالهادي(عمري)
دپښتی ډیزاین : رازمحمد کاتب
خپرندویه : بست فرهنګي ټولنه
چاپ کا ل : ۱۳۸۹
چاپ شمیر : ۵۰۰
انترنیت خپروونکی : اجمل اکبري

## دغزلوغوټې وغوړیدې

شپه تیریږي، رڼاته ځای پریږدي، دسپوږمۍ او ستورو ځلاخپله ښکلا دلاسه ورکوي، رڼاهم خپره سوه، دتورو تیاروتغریې ټول کړ، دسکوت مهرونه هم مات سول، هرڅوك همپرخبروراغئ، چڼیږي، ګډیږي، ګرځیږي، هري خواته دروميي خودسردارمحمد ((صدیقي)) خوله لاهم پټه ده.

شونډې یې لاهم دیوون په تارګنډلي دي، اویودبله نه بېلیږي، سترګي یې لاهم دټولو هستیوڅخه پټي دي، دخاطراتو په خیالي نړۍ کي دلیونتوب اوخوب په سېلابیزو څپوکي دژوندحقیقت غواړي، اوترناوخته ډوب پاته دی.

کله چي سترګي روڼوي، دشپې ددرانه سکوت څخه هرڅه پربل مخ اوښتي ویني. خوبونه یې لیدلي وي، فکروهي، دخیالونوتارونه سستوي، اوپرهره خوا یې ځغلوي.

که تاسي لیدلي وي یاموا وربدلي وي، ماهي ګیر دخپل ماکوڅخه هغه پړي اوتارونه لورپه لور سست پریږدي، کوم چي په سرکښي یې چنګکونه وي، کله چي چنګك دماهي خوله ونیسي بیایې په کمال اوهنر داوبوسرا وماکوته تژدې راولي، دنبزې په ګذاریې دمرګ دبدرګې جوګه کوي.

دګران وروږصدیقي صاحب (**خدایه! ودان لري دښکلو کلی**) دغزلوبڼه هم دبحرډښکارسره چي په پورته ډول ترسره کیږي تمثیلولای سو.

صدیقي صاحب په خپلو غزلوکښي دعشق اوښکلا دوطن ودانې غواړي، په هنرسره یې دښمنان داسي ځپې چي دانسانانو اویاشاکانووخوړلوته یې جوړکړي.

((**خدایه! ودان لري دښکلوکلی**))غزلیزه ټولګه یې لومړۍ ده، چي دمړۍ هګۍ څخه دژوندنړۍ ته دساکت واعظ په خیرله چاپه راووته، نوموړي ټولګي ته دابدلپاره دلوستونکوپرزړه اوژبه ښه تودمینه غواړم.

ګران ((صدیقي)) صاحب ته مبارکي وایم، پرعمر، ځوانۍ، فکراوقلم یې برکت.

په درنښت

الحاج محمداسمٰعیل (شریعتیار)

# حمد

زړه مـــــي ســــتادی تــــن مــــي ســــتا دی ځــــان مــــي ســــتا دی
مځکــــــه ســــــتا ده جنــــــت ســــــتا دی آســــــمان ســــــتا دی
زه عـــــاجزه یــــــم نــــــاخیزه یــــــم بنــــــده یــــــم
قهرســــــتا دی غضــــــب ســــــتادی احســــــان ســــــتا دی
زه نــــــاپوه یــــــم خــــــه داروبــــــه چالــــــه ورکــــــړم
شفاســــــتا ده دوا ســــــتا ده درمــــــان ســــــتا دی
پــــــه قیامــــــت چــــــي شــــــفاعت دخپــــــل امــــــت کــــــړي
دلدارســــــتا دی نگارســــــتادی جانــــــان ســــــتا دی
بــــــل مشــــــعل دي رالیږلــــــی زموږلارښــــــود دی
پیغــــــام ســــــتا دی کــــــلام ســــــتادی قــــــرآن ســــــتا دی
راولــــــي پــــــه دې دنیــــــاکي بدلونونــــــه
ژونــــــدون ســــــتادی ســــــپرلی ســــــتادی خــــــزان ســــــتا دی
صــــــدیقي دگناهونوخخــــــه پــــــاک کــــــړه
عــــــدل ســــــتادی انصــــــاف ســــــتا دی کــــــاروان ســــــتادی

# نعت

دغه ارمان مي دزړګي ائينې دپاسه
چي يوه ورځ به لاس ايږدم ستادروضې دپاسه

دنورانيت شغلې به ولي هرطرف ته نه وي
چي انوارونه را اوريږي مدينې دپاسه
چي پکښي لوی سومحمد دپاك اسلام په مینه
صدآفرین دي وي دهغي قبيلې دپاسه
مدينه ښاربه ولي نه وي دښارونو ناوې
چي ښکلی نوم يي نوشته د دروازې دپاسه
چي داسلام دېوه قرآن پرمحمد نازل سو
عجب طوفان راغئ دهري بتخانې دپاسه
دمحيبانو په کتارکښي صديقي ولاړدی
غم يي زياتيږي دژوندون دهري شپې دپاسه
۱۳۸۸\۱۱\۵

# رقیبه

چې کله خیال کې راولم کیسه خپل درقیب
تکل وکړم چې څیري کړم سینه خپل درقیب

رښتیا وایه جانانه بیایې څه درته ویلي ؟
په مخ کې دي نن بیا وینم څیره خپل درقیب
یو ورځ به دهوس پرنیلي سپورکلي ته ورسم
پرخپل اوږو به باسم جنازه خپل درقیب
پرون مې جانان کړه ځکه ټول کلي نه بارکړه
کوڅه کې یې وه ګرانه ګذاره خپل درقیب
مجبوریم چې آخیربه ورته لاري کې ماین پټ کړم
معلومه مې ماښام کړه دروازه خپل درقیب
دخدای نه مې غوښتنه د دوزخ ورله وکړه
راتلم چې صدیقي پرهدیره خپل درقیب

# حتماً

اختیارمي دوجودلرې چې هرڅه ورې جانانه
خالي لاس رانه تلای نسې زرګی خوبه حتمي وي

دزړه سره جانانه دایوه شپه مې مېلمه سه
که غوامي چپه نکړله ګیلګی خوبه حتمي وي

تصمیم مودی چې ټوله رقیبان دځان تابع کړو
خوخیرکه ټوله نسول ګاونډی خوبه حتمي وي

زړګیه اختیارستادی چې پرهرښکلي لاس نیسې
خودومره درته وایم هلمندی خوبه حتمي وي
سباته به رقیبه په میدان کې معلومیږي
که ماتي مې ستا پښې نکړې مغزی خوبه حتمي وي

خاونده داغزوترڅنګ به ژونډون وکړو؟
چې ګل مې ځان دښمن بولي اغزی خوبه حتمي وي

امیدلرم رقیبه چې میدان کې به ته غوځاریږې
پرملاکه مې راکت نکړې زینګی خوبه حتمي وي

غمخورجانانه یوځل مې دې وران کلي ته راسه
که ساندي دي وانه وریدې زګیروی خوبه حتمي وي

بیا د رب سو کلیوالو ځی چي ځو وهدیرې ته
شهید زمورډ کلي یوزلمی خوبه حتمي وي
یوورځ به داسي راسي ښکلي یاره ستا دلاسه
که مرصدیقي نه وو لېونی خوبه حتمي وي

۱۳۸۹\۱۲\۲۹
هلمندسیند مشاعره

## غزل

دستوروا وسپوږمۍ پرمړوند شپه که راکوې
آسمانه زه درخېږم اجازه که راکوې

خالیقه دثواب پرځای مي گران پښتون هوساکړه
دمورددعاگانوبدله که راکوې
وطنه په دې شرط به دي موږخامخاگلشن کړو
په لاس کي دټوپك پرځای بیلچه که راکوې
یوچاویل یوچاته خپل سکه وروربه مړ نکړې؟
هغه ویل مشکل نسته پیسه که راکوې
اشنایه ماخبرکړه چي نظرمي زخمي نسي
دخپل قدرتي حسن ننداره که راکوې

باداره صدیقي هم دچنارغوندي یارغواړم
غزل کي دکاروان په خیرمزه که راکوې

# سوال

چې پرزړگي يې دجفاتخم پاشلی نه وي
خياله! دداسي ښکلي کوربه تالېدلی نه وي؟
ماشوم نظرمې دښکلاځالوته خېږي مدام
صبرېږي کله ځودزلفومارچيچلی نه وي
انتخابات دښکلووسول مورېيده و خدايه!
هسې نه بيايې کوم مغرور ښکلی ټاکلی نه وي
ای دجفادغره له کاڼونه جوړبت جانانه
پرزنگنوبه دي بل پښوته درغلی نه وي؟
الله دي خيرکړي پښتون بياساهارپه ساندوپيل کړ
بياخوبه چاورته په شپه کې غم کرلی نه وي؟
صديقي آياددوو زړونومينه کېږي داسې
چې يومړکيږي پسې بل لاپېژندلی نه وي؟

# غزل

دعشق اظهاربه په ژړا که په سندري وکړم؟
لادومره نه یم چي دیارمخته خبري وکړم

دبانوگانوترسایې لاندي به ځای رانکړي؟
خدایه! که نازخپل دخواږه خیال پرملگري

زمورږدکلي هروکړی ښکلي ښکلي ستایي
زه به گیله له کوم زلمي له کوم سپین ږیري وکړم؟

مادرته نه ویله شیخه خولگۍ مه غلاکوه
اوس فیصله دي په رسۍ اوکه په توري وکړم

که مي دخیال شاپېرۍ ځوورځي پنجوکي یوسي
یو ورځ به راسي صدیقي به هم ورزي وکړم

# غزل

هرڅو که خواري او غربت نلرم
بیاهم ستادمیني قیمت نلرم

نورمي دنظرلاسونه خوشي کړه
شیخه زړه کې دومره طاقت نلرم
زمانه دبدرنګوتعریف مه غواړه
دومره یې نږدي قرابت نلرم
مابه ستابانه محکمه کړې وای
څه وکړم دعشق عدالت نلرم
خیال کې صدیقي په ګوتورانغله
ښکاري ورسره محبت نلرم
١٣٨٩\١١\١٥

لښکرګاه

# غزل

درته ناست یم نه راځې دېره وخته
سبانه سوې توري شپې دېره وخته

چې دعشق مې جنازه روانه نسي
راپسې ښکاري ښېرې دېره وخته
دیوښکلي ښکلی نوم وربانډي وایم
ورم په غاړه چې تسفې دېره وخته
شیخ به وایي چې په سروشوندودی موړدی
خوماایستي دي توبې دېره وخته
واورین یاردی په لمرین سهاربه راسي
دي نیولي مې شیلې دېره وخته
صدیقي دکلیوال ژوندونه باسي
دښارښکلي ورپسې دېره وخته
۱۳۸۹\۱۱\۱۵

لښکرگاه

# غزل

راته گرانه زندگي سي کله کله
چي پرښکلو پابندي سي کله کله
چي دميني پرآسمان وريځي نه وي
بس پرزړه مووچکالي سي کله کله
په خوښي اوپه خفگان کي رنگ بدل کړي
گرانه سره دي اننگي سي کله کله
زمازړه يې احترام لره ولاړسي
ستابانه چي سلامي سي کله کله
جنگ دسترگوکي ميدان ښکلوته پريږدو
خوږنظرموتاواني سي کله کله
ترسهاره شپه دبل غيږکي سباکړي
خوتاوان پرصديقي سي کله کله
۱۳۸۹\۱۱\۱۶

لښکرگاه

# غزل

غوټې مي درپسې وهلي ځكه په لاس راغلې
اسمان كي چي مي غوښتلې پرمځكه په لاس راغلې

كوم بادو چي په غيږكي يې بيده وې ترسهاره
هواكي تېرېدې لكه بڼكه په لاس راغلې

داغه ووچي ستاغم مي دزړگي سره شريک كړ
ليږل مي درپسې دخيال ملكه په لاس راغلې

بيرېږم نظرمات كي به بانه درته لوگی كړم
پرلاربه چاليدلى يې لايقه په لاس راغلې
په خوب كي مي دبخت ستورى مداركي معلوم نسو
پرزړه مي وه جانانه بده كركه په لاس راغلې

نژدې دي چي دژوندتاندي غوټۍ مي چولاوه سي
دزړه باغ حرم مي رااوبه كه په لاس راغلې

باړخوته به څه نه وايم بانه به هم معاف كړم
پرخال به دي ضروروكړم نيوكه په لاس راغلې

ويل يې صديقي ته په خنداكلي ښكلو
نورنيت دتللومه كوه هلكه په لاس راغلې

١٣٨٩\١١\٢١

# غزل

شپه نیولي وه سلګو دچادمیني
څراغ وو پرمړکېدودچادمیني

ښکاري بیادعشق پېری رابانـدي کښېناست
یم ختلی پرایرودچادمیني

پرګودرچي دماتم مجلس تازه وو
پرون لمرو پرلویدودچادمیني

بیابیلتون توره اخیستي ده په خنګ کښي
قتلوي ښکاري ارزودچادمیني

ړوندمزل دی چي ترکوم ځایه به ولاړسم
لاس مي اینبی پراوړودچادمیني

سپین مړوندپه وینوسورکړي دهجرانه
یادګارلیکي په خالودچادمیني

صدیقي دشعرملکي سلام وکړ
ته اخته وي په کیسودچادمیني
١٣٨٩\١\٦

# غزل

عرض به وکړم پرباچادتوروسترگو
یم ښکارسوی پرصحراء دتوروسترگو

قضاوت به وښوته سره پرېږدو
چې چا جنگ یوړبیگاه دتوروسترگو

پکښې اوسم دیارمینه مې حجره ده
سبق وایم پرملاتوروسترگو

په سترگک دي یقین نه کړم چې به پوه سم
په خوله ووایه ویناد توروسترگو

خولگۍ نه غواړم دیارنه خدایه مکړه
چیرته وانخلم حیادتوروسترگو

درنجواحسان پرځان مه پرېږده یاره
ته ذاتي لري ښکلادتوروسترگو

صدیقي که خدای مې غاړي بندي نه کړي
نیم خوړلی یم اداد توروسترگو

١٣٨٩\١\۶

# غزل

دميني ږغ موبيار اويښي کړې بيدې بلاوي
ښنگه به ځوديار ترکلي دي درنې بلاوي

خدايه دچاگريوان ته واچوويتيم لاسونه
خپل گاونډيان موراته جوړسوله نږدې بلاوي
اميدمونسته چې په سپين سهاربه کړه وکړي
جوړوي توره تاريکه وځي دشپې بلاوي
غواړي دکورانگړموتول رانه په زورونيسي
پرودان کلي موراغلي ميلمنې بلاوي
يوسوال مې واوره خدايه نورڅه درنه نه غواړمه
راڅخه واخله دغه توري اوداسرې بلاوي

نوريې ومه تخ ته دشعرونوځنځيرمه غوړوه
کارترکارتيردی صديقي ښنگه ترې بلاوي

۱۳۸۹\۱\۳

# غزل

عجبه توره تاريكه وه ستاتركلي درتلم
وصال راكړې اجازه وه ستاتركلي درتلم

دبيلتانه زندان مات كړستادعشق په توره
ختمه مي زړه كي حوصله وه ستا تركلي درتلم
نه وم خبردخپل قسمت په ليكل سووپاڼو
په باب مي بل څه نوشته وه ستاتركلي درتلم
ستا دهجران سپاهيان مي بياپه توردغلاكشوي
ماچي پرسراخيستې شپه وه ستا تركلي درتلم
شيطان رقيب به مي مدام په كاڼوويشتلو
ښكليه ستا كلى مي قبله وه ستا تركلي درتلم

په زمزمومي صديقي ځكه تمامه نه كړه
ستا دصفت غزل اوږده وه ستا تركلى درتلم
۱۳۸۹\۱\۳

# غزل

لا په مستۍ کې دي زاړه دردونه
پرزړه مې بیا سوه میلمانه دردونه

یوخوا مزل دژوند پرسترړو لارو
بل خواپرسرلرم درانه دردونه
ځم داوربل سیوري ته ځان رسوم
خدای سته یوڅه به سي ساړه دردونه
ځکه گیله دچم دښکلونه کړم
ورته معلوم نه دي دزړه دردونه
چې هرکلی درد د دردونو کوي
ښکاري له ورایه پښتانه دردونه

صدیقي زړه دي ډبرين وساته
چیرته یې بیانه کړي اوبه دردونه
١٣٨٨\١١\١٥

# غزل

لامو پرهیلو اوزاری شودی شکمن پسرلی
ځکه اوس نه ایږدي گلونه پرلمن پسرلی

گلابه مه ژاړه چې ژوند دي داغزو دپاسه
تقدیردي خپل دی راته نه ښکاري اغزن پسرلی
یوخوآرمان شهید شهید بل خوبیا خدایه راته
ډول دنخار غوي راغلی پر وطن پسرلی
خطا مرگي وکړه چې گران یې گورستان ته یوړ
په موږ بد بختويې ناحقه کړ تورن پسرلی
بلبله سستانه دهوس دغزل توري ورک دي
مه وایه چاته چې خفه دی له گلشن پسرلی

چې کله وینم صدیقي شاوخوا سره گلونه
راته انځورسي تیرزخمونه پربدن پسرلی
۱۳۸۸\۱۱\۲۹

# ضرورت

ذهن نه لرم بغير د ميني شيخه
نورو ماته د سبق ضرورت نشته

که خولګۍ غواړې په زوري ځيني واخله
ښايستو ته د سترګک ضرورت نشته
چي پر حال دزکندن يې خوله و رنکړه
جنازه کي دکمک ضرورت نشته
دامنم پرتاب ده ډيرزړونه شيداوي
زما پر مينه هم دشک ضرورت نشته
دزړه کوکي مي ستاسترګو بمبارجوړکړ
نور د توري او توپک ضرورت نشته

صديقي چي خولګۍ بل چا ځيني يوړه
نوريې تا ته د درک ضرورت نشته
۱۳۸۸\۱۱\۱۵

# غزل

یو وخت په زلفو اویزان وو خواوس هغه نه یو
میني منم ستا مریدان وو خو اوس هغه نه یو

نن چي د کبره راته نه گوري مغرور ښکاریږي
پرون پر دغه ښکلوگران وو خو اوس هغه نه یو
کلی جانان گودر جانان اومازدیگر جانان وو
چي تول ژوندون جانان جانان وو خو اوس هغه نه یو
چي مولوستله سیپاره پر ملا امام د سترگو
قایم دي میني پر قرآن وو خو اوس هغه نه یو
شیخه حال وایه گناه که موثواب گټلی؟
د چاپرسترگو مینان وو خو اوس هغه نه یو

صدیقي زړونه مو په نه ثه باندي و پلورله
نه په خپل گټه نه تاوان وو خو هغه نه یو

۱۳۸۸\۱۱\۱۵

# غزل

بې اختیاره مې دستي په لاس کي ورکړ
خدایه زړه مې دلالي په لاس کي ورکړ

توربوراسینه دي بیاپه وینوسره ده
بیاکوم گل ژوند داغزي په لاس کي ورکړ؟
خدای خبر دی چي پرچابه گوته کښېږدي؟
انتخاب یاردزړگي په لاس کي ورکړ
ډیربیبېږم جلا نسم چي جانان لاس
ورقیب ته په یاري په لاس کي ورکړ
چي دعشق په اورمي زړه ایره سو
هرآرمان مي دلوگي په لاس کي ورکړ
چي ځانمرگي صدیقي پرښکلووکړ
داترون یې عمري په لاس کي ورکړ

۱۳۸۸\۱۱\۵

# غزل

دانتظار هره شپه دي سپېرې جانانه
نه يوه ورځ ده نه دوې ورځې نه اونۍ جانانه

ستاد ښايست کلي به وران سي يوه ورځ به راسي
زما به چپه سي دامید هسکه ماڼۍ جانانه
ښکاري چي بيادي دزمزم په اوبو مخ پرېولی
چي وښايست ته دي خجله ده سپوږمۍ جانانه
نن خو دي بيا پرسپين باړخو دي شاهدان غاښونه
په وهیږم نه چادرنه وړې ده خولگۍ جانانه؟
چي ستا دمخ په اینه کي خپل ځان ونه گورم
په هغه ورځ مي مري دصبر شاپېرۍ جانانه

دصديقي نوم نوشته پريو کاڼي باندي
پرسرېي جگ کړه زمادقبر پرشامۍ جانانه
۱۳۸۸\۱۱\۲۸

# غزل

داچي پلودي وسپين مخ ته په نماى نيولى
بيادي دچادزړه دپاسه ميني ځاى نيولى؟

قاضي دميني ورته هيڅ سزاهم ورنكړله
ماوودزړه كوركي دغله په څيراشناى نيولى
بيګاه پرټول كلي عجبه روښنايي خپره وه
ياوشبقدريامي ياركلي كي سراى نيولى
ځنځيردميني دى هرڅوك يې سرته ورسيدل
خوموږبدبختويې تراوسه هغه پاى نيولى

چي پرخوله راوړي نوم دعشق صديقي مه ګرموه
شيخه په زړه كي يې سپېڅلى نوم دخداى نيولى

١٣٨٨\١١\٢٨

# غزل

ثنگه چي تاردی دنری ستني ترسپم وتلی
داسي نظرمي داشناترزړگي سم وتلی

نن به ضرور دیارترزلفولاندي شپه تېروم
دزني خاله ترسپېرې خولې مي قسم وتلی
زړگيه صبرسه دیارغوښتنه بیاونکړې
نورموترکلي دلمرمخي یارقدم وتلی
جانانه خپل دعاشقانودي پوښتلي چیرته؟
چي څوک په تاپسي له کوره ستاپه غم وتلی
عرب جانان چي دبیلتون په سفرکډه وکړه
زه یې له غمه یم دمنځه دعجم وتلي

دسپين کاغذپرمخ چي څاڅکي صديقي ښکاربدل
دادزړه ويني وې که رنگ دي له قلم وتلی؟

# غزل

ښکاره نه ده زاهدلره مزه دیاردشونډو
چي ثنگه اوثومره ده نشه دیاردشونډو

پرسترمي یارښکل کوم هم سینه پوري یې نیسم
هم کله واخلمه خوره دیاردشونډو
خوښي مي ده دژونددیاردشونډوپه گفتارکي
وینایې ده ثوا ب حج وعمره دیاردشونډو
باداره موږدميني په مجلس شپې سباکړي
خبره موپرزړه موښلي خوږه دیاردشونډو
بایللی مي دسترگوجنگ امامه په محراب کښي
لوستلې مي په مینه سیپاره دیاردشونډو

لاهم دیاردشونډوپه صفت باندي موړنه دی
نه ختمه صدیقي کړل مدرسه دیاردشونډو
۱۳۸۸\۱۱\۷

# غزل

ښکاري ډیره ښه دعامي کېږي ده
نن پرلمرخاته دعامي کېږي ده

ژردی چي دياردزني خال جوړسم
ناست وم پرلمانځه دعامي کېږي ده
شايدسبب مي دعلاج گراني
غوارم درنه خوله دعامي کېږي ده
تېره شپه دقدروه چي وينښ ناست وم
بيله تا دخه دعامي کېږي ده؟
خواست كوه چي خداى يي راقبوله كړي
داخل دخپل زړه دعامي کېږي ده

ناست وم صديقي دچاپه فكركښي
سرپرزنگانه دعامي کېږي ده
١٣٨٨\١١\٣

# غزل

چې تېرېدم ستاپه کوڅه کې ولې نه ښکارېدې؟
ګرانه بېګاه په نیمه شپه کې ولې نه ښکارېدې؟
مادخپل زړه پرسرجانانه ښه په غورکتل
ته مې کنډوکنډوسینه کې ولې نه ښکارېدې؟
پرون مې هسې دخیالونوپه دنیاکې ته وې
نن دشرابوپه پیاله کې ولې نه ښکارېدې؟
ته دهرزړه په باغ کې ګل وې راته داوایه
زمادزړه په کرونده کې ولې نه ښکارېدې؟
مادې تصویردزړه پرپاکه تخته رسم کړخو
ته مې دژوندپه اینه کې ولې نه ښکارېدې؟
زماشهیدآمان یې وړی دهدیرې پرلوري
بې غوره ته یې جنازه کې ولې نه ښکارېدې؟
دصدیقي هره غزل مې شرترپایه لوستل
ته یې دشعرپه قافیه کې ولې نه ښکارېدې؟
١٣٨٨\١\٢

وربښته غوندې نازکه دي رابطه زموږدزړونو
رقیب لره ساده ښکاري قیصه زموږزړونو

دمینې تخم پاشوهمېشه دزړه په باغ کې
مدام تروتازه وي کرونده زموږدزړونو
قسمته راته ښیه دتقدیرپاڼې توري
معلومه راه نه ده اینده زموږدزړونو
رقیب کوي چکچکې آخیربیرته شرمنده سي
چې کله ترمنځ راسي ثه دعوه زموږدزړونو
پخپله پښتانه یوهم موزړونه پښتانه دي
تل مینه وي په کورکي میلمنه زموږدزړونو

پېودلی چې مې زړه نه وو دزړونو په آمیل کښې
وچالره په ټ رازنه ووښکاره زموږ دزړونو

نوولي به دمیني مریدي صدیقي نه کړو
چې مینه یې پرسرده نوشته زموږ دزړونو
۱۳۸۸\۱۱\۸

# غزل

څومره مې په غرونو او دښتو کي اوښکي تو ی کړلې
چاته مې ګریوان چاته لاسو کي اوښکي تو ی کړلې

خیر دی که راتیټ نسو زړګیه زړه یې نه سوځي
یارته خومي داځلي په پښو کي اوښکي تو ی کړلې

چا دي پرخنګل باندي جانانه شپه سبا کړله؟
چا دي دهجران په توروشپو کي اوښکي تو ی کړلې؟

ډیر کلونه کیږي ستا دعشق کتاب تمام نسو
ډیرمې یې په پاڼو اوصفحو کي اوښکي تو ی کړلې
ستا لادنفرت جامه په غاړه راته نه ګوري
ما دي دوصال به امیدو کي اوښکي تو ی کړلې

ستا دمخ تصویرمي دزړګي پرسرانځورنکړ
هسي مې دفکرپه زانګو کي اوښکي تو ی کړلې

هلته مې څه نه ویل چي درنه دي جواب راکړ
ډیري مې لاري په اوږدو کي اوښکي تو ی کړلې

ن وصدیقي ته دالهام ملکه نه سولې
ځکه یې په سپینو کتابچو کي اوښکي تو ی کړلې
۱۳۸۸\۱۰\۸

# غزل

زړه مي دژړلووعدې کړي دي
تاچي دخندلووعدې کړي دي

وینښ کښینه زړگیه چي بیده نسې
یاردي بیادوړلووعدې کړي دي

ستادزني خال ته به قسم کښیږدم
چازمادوژلووعدې کړي دي؟

وگوره یوه وعده ترسره کړه
ډیردي دکتلووعدې کړي دي

ژرمي صدیقي خاوروته مه سپاری
نه مرمه که نښکلووعدې کړي دي

١٣٨٨\١٠\٨

# غزل

پروران ن باندي موبیاسپېره بادونه راغلل
دهرآرمان جنازه وځي ظلمتونه راغلل

الله دي خیرکړي کوم رقیب بیاراته چل جوړکړی
نن موکوخوته دپردیوخلگوپلونه راغلل
موږسکنی وروردپردیوپه لمسون وژلی
چي کورمولوټ سواوس موزږه ته آرمانونه راغلل
هسکه شمله موتراسمانه باندي فخرکوو
خووگریوان ته دنفاق اوږده لاسونه راغلل
وطنه اوس لا دظالم زړکی یخ سوی نه دی
لایې په ذهن کي عبث عبث فکرونه راغلل
بیادکوم کلي مازدیگرپه وینوورنگېدی
دهري خوانه دباروتوتوردودونه راغلل
دصدیقي آرمان زخمي وولاشهید خونه وو
نن داسي ښکاري چي پرسرېي نورغمونه راغلل
١٣٨٨\٨\٢٢

# غزل

دغه مي ستره خاطره ده نورمي ثه له پوښتې
چې مي نصیب ستایارانه ده نورمي ثه له پوښتې

لاس پکښې مه وهه رقیبه ستادپرېکړي نه ده
زماویارترمنځ قیصه ده نورمي ثه له پوښتې
دعشق کتابه مادي هرتوری په ځیرلوستی دی
پرزړه مي لیك هره صفحه ده نورمي ثه له پوښتې
لاردمنصورتعقیبوم مینه کې پاته نه یم
قبوله زماددارتخته نورمي ثه له پوښتې
نوردرنه ځمه یاره خدای خبربیاکله راسم
ددعاگانواجازه نورمي ثه له پوښتې
زړگیه غلی سه دعشق رباط لازیات پاته دی
ددې مزل لاره اوږده ده نورمي ثه له پوښتې
مخ دي نیم پټ ووصدیقي ټوله مي ونه لیدې
ښکلي له تاسه مي گیله ده نورمي ثه له پوښتې
۱۳۸۸\۱۰\۱۶

# غزل

بیا پرکوم بیابان مي دروي تنده؟
ثومره وه بې حده برایي تنده

ثوچي یاردشونډوشربت رانکړي
ماته به مي نسي دزړگي تنده

یاره ته که نه راځې زماواوره
سي به مې بدله په مرگي تنده

چم نه چي دښکلوتږي ووتو
خودبه مودزړه ورتکوي تنده

موږدميني تږي مينه ژوندبولو
مينه مومدام راماتوي تنده

موږلا دجامونوانتظاركوو
ښكلي راته لپوكي ويشي تنده

هرڅه ستاكوڅه له فكره وباسم
بيامي هم ستا درته رسوي تنده

ژوندكه دسيلاب خپوته ورنكړم
كله مي ماتيږي آدبي تنده

نن دصديقي دژوندمازيگربښكاري
هرآرمان يې خاورولره وړي تنده

١٣٨٨\١٠\١٧

# ښه مي و لیدی

ناست دښکلو منځ کي ښه مي ولیدی
شیخ صاحب پرسرباندي جام واړوی

نه پوهیږم خیال وو که دخوب بستر
لاس مي ستا ترغاړي ماښام واړوی
یارراته دحسن ماین کړپېټ شکر
ماپه پټوسترگوترې گام واړوی
یاره کوم قاضي فیصله وکړل چي
قتل یې دزړه پرغلام واړوی

تاله صدیقي امتحان وانه خیست
هسي دي له ثنگه ناکام واړوی

۱۳۸۸\۱۰\۸

# غزل

ورځ دا ختروه خلګورنګارنګ جامې جوړي کړې
مادشهيدلالي وقبرته جنډې جوړي کړې
خلګ خوشحاله ښکارېدله داخترپه سهار
زما ګريوان ته دفراق اوښکوپالې جوړي کړې
زما دهوس مانۍ به بياهسي ودانه نسي
دجانان غم مي دزړګي کورته کوخې جوړي کړې
پوهېږم نه مخکې دکوم اشنامزارته ورسم
ظالم رقيب راته بې شماره هديرې جوړي کړې
ستا عدالت دی خدايه هرچاله دي غم ويشلئ
مور داخترپه ورځ مسجدکي جنازې جوړي کړې
ددې ظالم دلاسه خپل کورراته اورسوخدايه
ګران يې شهيدکړنن يې ماته دسيسې جوړي کړې

صديقي وايه دچاغم دربانددي زورکړئ وو
چې نيمه شپه کې دي غمجنې ترانې جوړي کړې
۱۳۸۸\۸\۲۰

# غزل

داچي توره شپه سباده زما په فکر
دجانان دمخ رڼاده زما په فکر

چي دسترګوله پردوخوبونه بیایي
ددي ښکلو دارضا زما په فکر
ګام پرګام چي دلونګو بوی زیاتیږي
دادیار کلي خواده زما په فکر
چي دزړه پرودان کوراورونه بل کړي
دیاسترګي آمریکاده زما په فکر
چي دعشق بېړی مي هیڅ طرف ته نه ځي
راپسي دچاښیراده زما په فکر

داچي نن له صدیقي نه قسات اخلي
ښکلو بیا کړي سلاده زما په فکر
١٣٨٨\١٠\١

# غزل

دا چې پاته له خوښۍ نه بې اسرې یم
د یار سترګو لره ډیر متوجې یم

چې د یار نه د سروشونډو شربت غواړم
را وتلی خماري له میخانې یم
که قسمت چیري یاري راسره و کړه
وررسیږم د یار کلي ته نژدې یم
خدایه! شکر دئ مجلس یې رارسیږي
چې طالب د ښکلي یار د مدرسې یم

صدیقي د یار د شونډو رشته لولم
بل مضمون کې همیشه بې نتیجې یم

۱۳۸۸\۱۱\۱۱

# غزل

چي تياره خوره وره سي نيمه شپه سي
دسپېڅلي خيال مرغۍ مي ميلمنه سي
زه يې شمارمه دمخ شنکي خالونه
داتيکری پرمخ راکش کړي ژربيده سي
ترسهاره ورته ويښ پربستر پروت يم
کله يو خوا کله بل خوارابښکاره سي
کله سورسالودمخه رااوچت کړي
کله کښيني دافغان لورپښتنه سي
نن مې بيا دخيال نيلي وابښکي شکولي
خداي خبرشپه بې پرکومه دروازه سي
ماويارنن پرگودر سره ملاقات کړو
سپوږمۍ پټه سه چي جوړه تاريکه سي
صديقي ديارديدن چي رارسيږي
پروانکړم که نصيب مې هديره سي
١٣٨٨\٩\١١

# سینگار

چي په تش لیدودزړونوازار اخلي
یارپر سپین مخ شنه خالونه سینگاربولي

خداي دتوروسترگوجنگ کي ثواب راكړ
ملا امام په یي ناحقه بدكاربولي

دجانان كوځه كي ډیرعاشقان گرځي
خدای خبردی څوك دزړه خریداربولي؟

پرینځولاړومزل مي سرمایه ده
ددنیاخلگ مي هسي نادار بولي
جاهل یارله مي ځكه مرگی غواړم
چي دسردښمن دكورپیرداربولي

له دي خلگونه به څنگه گیله وكړم
څوك چي خپل كورورانول افتخاربولي

دوحشت توروتیاروكي رالوی سوي
وحشي خلگ سته هرڅه خپل اختیاربولي

چي لیلادمخه تورتیكری اوچت كړي
صدیقي به هغه شپه هم سهاربولي
١٣٨٨\٩\٧

# مننه

جانان یې ستا درنه مننه کوم
رقیبه دا درنه پوښتنه کوم

چیري او سېږې ما این ترلی درځم؟
ستا سوانګړکي ځان وژنه کوم

پېټ له کوګله چې یې زړه وړئ دئ
یارته په ځرنګه بخښنه کوم

کچکول په غاړه چې له کوره وځم
دښکلو ښکلو پلټنه کوم

دجادوګریارنه نورهیڅ نه غوارم
دوړي زړه ورنه غوښتنه کوم

دوصال کرښې مې په لاس کې نسته
په هرملابانديکتنه کوم
باداره مادیاردزني خال کړې
چې ژوندون پاس دیارپرزنه کوم
پرحال دي ذبردصدیقي وژړل
زړګیه نوردي درملنه کوم
۱۳۸۸\۹\۱۱

# سوله

خدایه دا به دي پر مورِ مهرباني وي
چي د سولي مرغۍ راسي جنګ موهیرسي

دا سرزوره پښتانه تول سره کښیني
دنفرت اوورور وژني ثخه تیرسي
دا مخ تورزاغان شوره اوشرمنده سي
په ګلشن کي مود سولي طوطیان ډیرسي
عدل جګ پرپښو ولاړوي ظلم نه وي
پیمانه په پیمانه وي سیرپه سیرسي

خوږجانان که مي د سولي زیرئ راوړ
صدیقي هره خبره به مي شعرسي

۱۳۸۸\۹\۱۱

# پوهېږي ؟

لاس مي بندي ملامي ماته که پوهېږي
يوځل وگوره وشاته که پوهېږي

لاس په يوکړو دغليم پرکوربه ورسو
ځيني اخلوخپل قساته که پوهېږي

راځه ځان دانسانيت په ژبه پوه کړو
سره کښېنو ملاته که پوهېږي

ديوبل مينه به زړه کي پته ساتو
کاربه نه پرېږدو سباته که پوهېږي
له پرديولمسونونه به تيرسو
پرسجده به سوالله ته که پوهېږي

زه به ستا اوته له مانه وېره مه کړه
په ډاډه زړه راځه خواته که پوهېږي

خوږژوندون دئ په خوښې بي سره تيرکړو
آخيردواړه ځوعقبٰی ته که پوهېږي

صديقي له دي حالاتوتصوېرواخله
چي ښه نه سي درنه پاته که پوهېږي

١٣٨٨\٣\٢٣

# منم

منم چې دا به راته گران تمام سي
چې ستا خالونه له نظره باسم

خیال به اسیر کړم دزندان په غېږ کې
عشق به دي خنګه له ځیګره باسم
نورمي دزړخ آئینې ته مه رادرومه
زه دي تصویر دزړه له سره باسم
دلته دعشق پرنوم بندیز خپور سوئ
ترخولې به ځرنګه خبره باسم
ځان به تاوان کړم پرخوښکلوباندي
سبامیدان کي ورته زغره باسم

کډه په بار کړم صدیقي له کلي
جانانه سترګي ستاله وره باسم

١٣٨٨\٤\٧

# غزل

لامي ترخو پردغه لاره او مسير کشوي
ترکوم زندانه ښکلي زمازړگئ اسير کشوي؟

ديارخبري مي پرزړه سي نوشته دارقم
لکه تخته باندي معلم چي تباشير کشوي
ديارد کلي خلگو خومره بدعادت نيولئ
په يوسلاراخي دکلي نه فقير کشوي
پوهېږم نه چي ښکلوبيا کوم زړه په تېغ وهلئ؟
چي عاشقان ورځي له منځه يې وزير کشوي
زه پريوخواځم زړه مي بلي خواته لاري څاري
رانه مدام زړگئ دمړوسترگو تاثير کشوي

دصديقي آرمان پرهرمنزل ستومانه ښکاري
ناراضه نه دي ژوندبي توله خپل تقدير کشوي
١٣٨٨\٩\٢٠

## یاد گار

صدیقي اوعمري

چي ستادکلي له کوڅونازونو کېده وکړه
زماهم دسترگوله پردوخوبونو کېده وکړه

زړه مي تراوسه لاهوس دتوروسترگوکوي
خودوصال ددریابوموجونو کېده وکړه
په تش کتودي دکوگله زما زړه وړئ دئ
په یوآدا دي دکلوغمونو کېده وکړه
دیارتصویرمي په هنداره کي دزړه ساتلئ
اوس مي دزړه نه پخوانویادونو کېده وکړه
په کمه خوله په کم قلم به ستاصفت ولیکم
چي مي دعشق له کتابچوبیتونو کېده وکړه
دادجانان دعشق خماردئ هیڅ پرې نه پوهېږم
که دساقي له میخانوجامونو کېده وکړه
دصدیقي نه یې دعمرانتقام واخیستئ
ځکه پرخوادعمري گلونو کېده وکړه

# ازموينه

يوازي مه ځه پرګودرتږي کسان ولاړدي
شيريني هسي نه په زوره درنه زنه واخلي

چي خال کامياب شوندي مشروط بارخوناکامه راسي
داسي ثوك سته چي له جبينه ازموينه واخلي؟
زموربزلمي چي هميشه سينګارد پېغلوکوي
زرګيه! ثنګه انتقام به له دښمنه واخلي؟
بياثوسورمخي غليمان دکورانګرته راغلل
نه چي بيا داغ پښتنه پېغله پرلمنه واخلي
يوځل حساب ورسره وکړه دګاونډه سره
ډيورينګ په جګ سردرنه ثرنګه ډارنه واخلي

صديقي نه مري برايئ يې داوصيت کړئ دئ
که يوثوښکلي يې پرغاړه درملنه واخلي
۱۳۸۸\۴\۶

# غزل

ځي وراځي خيال مي قاصد ښكاريږي
هم خولګۍ غواړي هم زاهد ښكاريږي

وايه به ړخودي درته چاوچيچځ
ناست پرې غاښونه شواهد ښكاريږي

جانانه زړه مې درسره مريد كړه
نه ليونی دئ نه پرسد ښكاريږي
كافربانه چې ورنه لاړواړول
نن راته خپل زړه مجاهد ښكاريږي

صديقي اوس پردې كوڅه نه راځي
ښكاري چې وران يې مقاصد ښكاريږي
۱۳۸۸\۵\۱۶

# دوران

عمرتېرېږي دوختو په غيږکي
ساده خويونه په بلبل کي نسته
هغه چي مور پسي غوټې وهلي
هغه غمئ دسيند په تل کي نسته
توره بوراء په رنگ يې مه غولېږه
خوشبوعطرونه په هرگل کي نسته
چي له هيبته يې غليم تښتېدئ
هاشازلمي اوس په کابل کي نسته
دملالۍ چي يي ټپه ويله
غېرتي پېغلي دې محل کي نسته
زلميه تاخنگه ميدان وگټئ؟
ځکه گردونه دي کاکل کي نسته
صديقي ته دچاپه واك كي سولې؟
چي پروت تاثيردي په غزل کي نسته

# غزل

گرځم توروغرونونه الهام اخلم
هم له سروګلونونه الهام اخلم

ته دليري ځايه راروانه سه
زه دي قدمونونه الهام اخلم

خداي خودي زلفان له مخه پورته کړه
نن دي شنوخالونونه الهام اخلم
ژاړم خوپه خوله کي مي مسکاښکاري
هسي له وختونونه الهام اخلم

خوښ يم صديقي دسيلاب غېږه کي
تل يې له موجونونه الهام اخلم

# غزل

تیرساده فکرونه راڅه پاته سول
زړه کې پټ رازونه راڅه پاته سول

تېره ورځ دښکلوچم ته ورغلو
راغلو افسوس زړونه راڅه پاته سول

غلی دي کوڅې ته بیگاه درغلم
څه وکړم چې پلونه راڅه پاته سول

تاچي په سروشوندو اموخته کړمه
مئ اوشرابونه راڅه پاته سول

کله صدیقي چې یې مین کړمه
ټول فاسدکارونه راڅه پاته سول

# غزل

که پاچا سم که وزیر سم نه راګورې
که ګدا سم که فقیر سم نه راګورې

ښکلي ته چي کله زموږ کلي ته راسې
زه دي ښه سترګو ته ځیر سم نه راګورې

تا ته درکړم دژوندون اختیار په لاس کي
ملامت په خپل ضمیر سم نه راګورې

زه شبنم سم ټوله شپه درته شبګیر کړم
سهار ستا زلفو کي ګیر سم نه راکورې

صدیقي د مایوسۍ طوفان لاهو کړم
چي چاپیر درنه ځنځیر سم نه راګورې

# غزل

بیادي پرمړوسترگوشوخ کاته گرځي
ووایه اشنازړه کي دي څه گرځي؟

زموږچم کي دميني قيصې مکوه
دلته ځوربې دلي پښتانه گرځي

دلته چي اظهارميني نه کيږي
ښايې څوسرونه بيگانه گرځي

موږسپېره جامه لروخړپړگرځو
ځکه موپه څنگ کښي صنم نه گرځي
هغه صديقي چي ورته غېږ ورکړه
هغه دبل څنگ کښي مستانه گرځي

# غزل

خپله شونډي ښکلوي مورېته نصیحت کړي
مورېپه یونظرکتلوملامت کړي

شیخ چي ټوله شپه دتوروسترګوجنګ کړي
سهارکښېني په محراب کي امامت کړي

خپله هسي دښکلادرته نخښېږي
حتٌی زړه کښي هم دښکلي عبادت کړي

بس ومورېته دګناه خبري شروع کړي
پریږوي خولګۍ هم یادراته قیامت کړي

شېخه ماهم خپل مزل باندي روان کړه
صدیقي لېوني زړه مي بغاوت کړي

١٣٨٧\١١\٥

## ناخبره

موږدغفلت پرآس سپاره یوبې منزله ځغلو
هادمنزل درسېدلو کاروان شاته پاته

دا ناخبره زلمي بیاهغه مزه لټوي
افسوس دجګ سرګرځیدلوزمان شاته پاته

زموږله توري نه به هیڅ غلیم عبرت وانخلي
چې وي دکلکي عقیدې خاوندان شاته پاته

بیادپښتون په کوردمکرډله ننوته
خدایه چې نسي دپښتونه ایمان شاته پاته
داچې دکوردروازه بیاراته پردونیولې
هغه خروښ کې رالوی سوئ افغان شاته پاته

ټوله دنیاده وړانګې وړانګې موږتیاروکي ناست یو
لکه ړانده ګرځوراګرځوجهان شاته پاته

چې امتحان دغیرت راغې موږبریتونه پټ کړه
پیغلې رامخته سوې میدان ته ځوانان شاته پاته

دافغانیت شمله یې ورکه دې بې ننګوکړله
ننګ یې پایمال جذبه یې ورکه وجدان شاته پاته

سیلابه نوردصدیقي دکاروان مخه نیسه
مزل لا اوږد دئ پردې لاره یاران شاته پاته

## غزل

ورځي په یوبل پسي تللې ماکتاب لوستلو
زمور ازموینې پیل کېدلې ماکتاب لوستلو

په تورو زلفو او سرو شونډو ببخي نه پوهېدم
که توري شپې مې رڼولې ماکتاب لوستلو
بېګاه دښکلو پردبار پابندي ولګېده
خوبیاهم شونډې ښکلېدلې ماکتاب لوستلو
چي ستا دحسن دمضمون دامتحان وخت به سو
تا به صفحې رااړولې ماکتاب لوستلو

صدیقي زړه رانه هغه شیبې په زوره غواړي
چي تا به سترګي تورولې ماکتاب لوستلو

# غزل

ټوله شپه مجلس کوو زه او سپوږمۍ
هرمدار ته سره ځوزه او سپوږمۍ

هادکلي اودغره وتلي سيمي
پرېتي سره کښېنوزه او سپوږمۍ
يادړنگ ديوال پناه ته ملاقات کړو
يودبل احوال پښتو زه او سپوږمۍ
نيمه شپه ټوله محلت کي خاموشي وي
خوموږ سترگي جنگوو زه او سپوږمۍ
کله کښېنودگناه خبري شروع کړو
کله شونډي ښکلوو زه او شپوږمۍ

صديقي دواړه ديواوبل په غيږ کښي
ستړي زړونه بيدوو زه او شپوږمۍ

# غزل

ترځان چاپېركړم ستاعكسونه نوغزل وليكم
له اوښكوجوړكړم آميلونه نوغزل وليكم

دزړه پرسرمي راته لاري اوكوڅې جوړي كړي
ستانازولي قدمونه نوغزل وليكم

دوركي ميني په ملاقات پسي آسمان ته ولاړسم
چي لټومه مدارونه نوغزل وليكم

داسمان ستوري ترسهاره پوري وشمارمه
چي ورنه زيات سي ستاخالونه نوغزل وليكم

ستادسروشونډوتورسترګوڅه الهام واخلمه
چي كله نه راځي خوبونه نوغزل وليكم

دپاكي ميني په صفت يي بېخي نه مړېږم
خلاص سي دميني كتابونه نوغزل وليكم

دهرطرفه دخوښبيوفرشتي راولي
ستادزلفانوشمالونه نوغزل وليكم

چي كله ستادعشق جرګي زمونږتركلي راسي
صديقي پرېږدم نوركارونه نوغزل وليكم

# غزل

مکړه دغمونودپایان خبري مکوه
دلته دخوښیودوران خبري مکوه

موږدپاکي میني زولنوکي رالوي سوي یو
موږته دیوسف اودزندان خبري مکوه

زموږپردي دنیایوه لحظه دژونداميدنسته
وخته دمهدي اخرزمان خبري مکوه

موږلادپخواسه په سجدوتندي مات کړي دي
سره دختیك اودسندان خبري مکوه

موږدبنګړوشرنګ سره په شپه کي پاڅېدلي یو
شیخه دطالب اودآذان خبري مکوه
موږهغه ګلان یوتوروغروکي رالوی سوي یو
هرڅه موګاللي دطوفان خبري مکوه

موږهم په ژوندون کي دلیلٰي سترګي په خوب وینو
دومره د درخواوآدم خان خبري مکوه

دوي خوصديقي وطن په لافو تیرایستلی دئ
دوی ته دتاریخ اوداستان خبري مکوه

# غزل

تاراوړئ کوم الهام دئ نه پوهېږم
خپورپرشوندودي کلام دئ نه پوهېږم

نن دي بیابانه له ورایه سلامي کړي؟
که عادت دي احترام دئ نه پوهېږم

داوماته دژوندون فرشته ښکاري؟
که ښایست پرتاتمام دئ نه پوهېږم

بیادي زلفې هرطرف ته شانه کړي
غوړولی دي کوم دام دئ نه پوهېږم

صدیقي په مینه ستاوخواته ګوري؟
که یې بل ښکلي ته پام دئ نه پوهېږم

# غزل

که ستادميني دخوندونوکيسه ختمه نه ده
زمادزړه داميدونوکيسه ختمه نه ده

په جادوگروسترگوبيازلزله جوړه نه کړې
لامې پرژوندکړاونو کيسه ختمه نه ده
دزنې خاله ته په هسې پاچاهي چلوې
پرسپين جبين دټولټاکنوکيسه ختمه نه ده
په پټوسترگودجانان ترکلي ښنگه تيرسم
پربېده زړه دانځورونوکيسه ختمه نه ده
سپيره قسمته دادي چاته نه سانواتي وروړې؟
دمغروريارجوابونوکيسه ختمه نه ده

صديقي خداي خبرچې داغوټۍ به گل ونيسي
پردې چمن دطوفانونوکيسه ختمه نه ده

# غزل

رقيبه ته چي شرمېدلي اراده کړې ده
مادجانان مينه په زړه کي خزانه کړې ده

قسمته نن مي وهغه کلي ته بياوروله
چيرته چي ماديارڅنگل باندي تکيه کړې ده
دزني خاله ته بيده وې په څه نه وې خبر
برايې ماديارترزلفولاندي شپه کړې ده
دخوبه ډکوسترگوداسي شاهدي ورکول
ښکاري بيگاه دي دشپوږمۍ مقابله کړې ده
ساقي جامونه دي مايوسه وه ويل يې داسي
څه غواړې زموږنه تادسروشونډونشه کړې ده

سپين مخيه ته که راته سل ځله پردی ووايې
صديقي مادي زړه کي مينه همېشه کړې ده

١٣٨٧\١٠\٧

# غزل

ښکلیه په خندلودي دو که کړمه
ښکاري له هرچاتابیګانه کړمه

ستاله پستوشوندوڅه کمېږي نه
یوځل که خپل خوله باندي خوږه کړمه
نن دي له شراب د سپیني خولې راکه
دې نه پس به تهٔ ول عمر روژه کړمه

راسه په زړګي کي مي شپې تیري کړه
چل د پاکي مینې به درزده کړمه

نوربه صدیقي کوڅې ته نه درځم
ښکلیه! د غمونو دي شناخته کړمه

# زړه ته راتيره سي

زه چي دخيالوتال کي وزانګم
هغه ګلالی ژړه ته راتيره سي

هرڅه دښارونوښکلي وويـنم
پيغله هلمندی زړه ته راتيره سي
خيال کي دنړی کلتورته وګورم
خپل سپيره بګړی زړه ته راتيره سي
زه جهانيانو پتلون څه کوم
وخته خپل صدري زړه ته راتيره سي
موريې په پېروي لويه کړې ده
ځکه خوکوچی زړه ته راتيره سي

کله صديقي چي سترګي پټي کړم
خلاصي کړي تنې زړه ته راتيره سي

# غزل

ګل په زړه کې نه ایږدم اغزي به سي
ښکلونه ګیله نکړم پردي به سي

آه که مې دسوي زړه چاواورېدئ
شاید سې بې واکه لیوني به سي
شونډي راکوه شرط راته مه ایږده
هسې ني جانانه جواري به سي
مکوه په سترګو ویشتل مکوه
ښکاري اخرپاي ترهګري به سي
اوس هم ستاله مینې ثه منکرنه یم
هسي نه ببرېږم رسوایي به سي

هروخت صدیقي ته شونډي مه چیچه
تېنګه اشنایي ده دښمني به سي
١٣٨٧\٩\١١

# غزل

خدای دي هروخت لري زموږسره ترخنگ وگړي
موږبه یو یوپرتندي ښکل کړودفرهنگ وگړي

چالونگین کړلوترغاړي دهوس په شپوکي
چادباروت په اورراوسوله لونگ وگړي

دپاسه گرځي ثوچورلکي بمبارونه کوي
زموږکوثوکي ځکه نه گرځیږي دننگ وگړي

بهاره چپ سه دهوس خبري بیاونکړې
لاگران هلمندکي ډیرپراته په وینورنگ وگړي

صدیقي سم به دفقیرغوندي ترکلي ورسم
پردوکوثوکي ځکه نه ولي ملنگ وگړي
١٣٨٨\١\٩

## قسمت

ثـــــــــــــومره چـــــــــــي بهارگلونـــــــــــــه راورلـــــــــــــــه
دومـــــــــــــره مولـــــــــــــه ملكـــــــــــــه جنـــــــــــازي ولاړې

چيرتـــــــــــه چـــــــــــي غمونـــــــــــه وه تـــــــــــورتم خپـــــــــــوروو
هلتـــــــــــــــه زمـــــــــــــــــوږدميني فرشـــــــــــــــتې ولاړې
ژاړوچـــــــــــي غـــــــــــوټۍ مـــــــــــوزړه كـــــــــــي گـــــــــــل نســـــــــوي
خدايـــــــــــــــــــــه! دبهـــــــــــــــــــــارخوږې شـــــــــــــــــــــيبې ولاړې
گـــــــــــوره پســـــــــــرليه چـــــــــــي خفـــــــــــه نســـــــــــې
هيلـــــــــــــــــــــــي دازل پرخــــــــــــــــــــــــواكړې ولاړې
هغـــــــــــه داتـــــــــــــن زلمـــــــــــي مرگـــــــــــي يـــــــــــورل
ځنـــــــــــــــي پرطـــــــــــــــرف دهـــــــــــــــديرې ولاړې

تـــــــــــل چـــــــــــي صـــــــــــديقي پـــــــــــه زيـــــــــــروبم گـــــــــــډوو
اوس يـــــــــــــــي لـــــــــــــــه زړه هغـــــــــــــــه ترانـــــــــــــــې ولاړې

# غزل

چې يې وعده وکړله بدله لاره
ديار يې خپله زمايې خپله لاره

ځان مې وژی افسوس چې ته رانغلې
ولې دي واړول اجله لاره؟
دخيال وابښکي مې وه دچاپه لاس کې؟
چې يې پيداکړه ترکاکله لاره
ته چې راتلې ماخولاپريږده يا ره
ستاپه ليدوخوشحاليدله لاره
دهيلوجام مې مايوسی چپه کړ
پيدامی نکړه ترمنزله لاره
ښايي چې بيايې راته ماين پتهوی
سترگودي بياراته کيندله لاره
زيارت کول مقصددښکلونه وو
صديقي تاته يې ثارله لاره
۱۳۸۹\۲\۱

# غزل

لکه بلبل چي سروګلونوکي سندري وايي
داسي مومينه اوس رګونوکي سندري وايي
بارانه مه اوره خدای مکړه رانه ورک چي نه سي
دلته مو اوښکي دیارپلونوکي سندري وايي
زمادخیال دشاپيری وزر دي مات کړه راته
رقیبه څوک به توروغرونوکي سندري وايي؟
دزړه پرکورمي کوم نظرماښام چاپه ووهل
نن خومي بیازړه ځنځیرونوکي سندري وايي
دزړه دمیني جزیره چارانه فتح کړل اوس
سپاهيان بانه یې لښکرونوکي سندري وايي
یابه جانان وي یابه عشق وي یابه درد دجفا
یوڅه ضرورسته چي تل زړونوکي سندري وايي
صدیقي ورسه مازیګردچنارونوخواته
بیادرته پیغلي ګودرونوکي سندري وايي

١٣٨٩\٢\٢

# غزل

داوښکوسـيندکي مـي ماهی دروڼ احسـاس ونیسـه
دښکلادښـت کـي مـي دخيـال زيـن کـړی آس ونیسـه

گونـدي دښـکلوباران وسـي چـولاوه زړگيـه!
تـه دي ځـولۍ دخـدای دربارتـه پـه اخـلاص ونیسـه
تـه دخـولگۍ نـه ليـري گرځـه شـيخه زړه کـي دي صـرف
دبسـم الله نـه تړولـه تـوري تـر والنـاس ونیسـه
راسـه دزړه کـوركي مـي يـاره نورځـه نـه ښـکاريږي
خـالي کوگـل دی هغـه ځـان تـه پـه ميـراث ونیسـه

خـولگۍ يـې ورکـړه صـديقي تـه خوويـل يـې ورتـه
څـوک خبرنسـي درنـه گـوره پرخولـه لاس ونیسـه

۱۳۸۹\۲\۲

# غزل

تـــاچي مـــي سرکښېښـــود پرزنګون ماښـــام
ځکـــه مـــي زړه بیاوکړېپـــاڅون ماښـــام
ســـتوري اوســـپوږمۍ موشـــاهدان وه چـــي
مـــاوزړه دعشـــق وکړتـــړون ماښـــام
ای دښکلاګانودآســـمان ســـتوري
چیرتـــه بـــه دي بیـــاوکړم لټـــون ماښـــام
ستادښـــکلي مـــخ څـــراغ تـــه ناســـت یمـــه
وایـــم همیشـــه دعشـــق مضـــمون ماښـــام
وایـــه دچادرتـــه دي ژړاکـــول ؟!
شـــیخه مالیـــدلی یـــي پـــرون ماښـــام
شایدهمســـایه دبلاګـــانودی
کـــاڼي چـــي تـــل اوري پرېښـــتون ماښـــام
بندوصـــدیقي دیارپـــه زلفـــوکي
لاریـــي پیـــدانکړه دخلاصـــون ماښـــام

۱۳۸۹\۲\۳

# غزل

دچانظرپرلګيدلی خدای دي خيرپيښوي
زړه مي سينه کي ښوريدلی خدای دي خير پيښوي

دعشق کوتري مي خدای مکړه رانه ښکارچي نه کړي
رقيب شاهين پسي وتلی خدای دي خيرپيښوي
نن خومي بيا په خوږ نظرچاته خواږه وکتل
لکه چي بيايم تيروتلی خدای دي خيرپيښوي
کومي څپي به مي دعشق غمی ترغاړو راوړي؟
ساحل کي ناست يم ورته غلی خدای دي خيرپيښوي
بيلتونه مه راسپوخوه دزړه پرهر په ګوتو
دچاپه زلفومي ګنډلی خدای دي خيرپيښوي
بيامي بيلتون راته تربورسوهجران لارونيول
بيامي دبخت ستوری لويدلی خدای دي خيرپيښوي
صديقي ټوله دهوس مځکه اغزو ونيول
ماوو ګلاب پکښي کرلی خدای دي خيرپيښوي
١٣٨٩\٢\٦

# غزل

ستا د غمونو او زما د امیدونو کیسه
چاته مې وکړل ماښام خپل د ارمانونو کیسه

زړه مې ماشوم وو د کور حال یې پر صحراء وو ایه
کنه سباته لمادهر چا د کلونو کیسه

د گل راوړلو ته مې گل غوندي رو ییاروته کی
گل به راوړي گل کوي گل ته د زړونو کیسه

ځي وراځي د زړه کوڅې مې زرغونې دي باندي
جاري مې زړه باندي دي یار د قدمونو کیسه

صدیقي څوک دي په نظر د اعتماد درخته سوه؟
چې دي کول ورته د ژوند د کړاونو کیسه

۱۳۸۹\۲\۷

# غزل

دامي دژوند يوه لحظه راغلې؟
که ستا دحسن قافله راغلې؟

دادي پرسپين مخ ملغلري ښكاري؟
كه دځواني مسته خوله راغلې؟

ځم لتومه پكښې ښكلي ښكلي
دهلمند سيند مسته څپه راغلې

دآسمان ستوري يې ديدن ته محتاج
په سترټېنګه پښتنه راغلې

دزړه غوټۍ يې راته بيا تازه کړې
دادكوم لمروړانګه تازه راغلې؟

چې دغمازواشاروته ګورم
پرزړه مې داسې يوناره راغلې

صبر صابر صديقي صبركوه
دصبرناك برخه درنه راغلې

# غزل

اوښکه وه شناخته وه بیگانه نه وه
خپله دازله وه میلمه نه وه

راغله دي گریوان ته په سلگو سلگو
شوخه وه بیداره وه بیده نه وه

پټ یې راته غوږکي کراروویل
مینه وه دښکلو همیشه نه وه

ماته یې دمینې لاري وښودې
هجرو غمونه وه بل څه نه وه

خیال دفکریوړمه پنهان سومه
ښکلي وه ښکلا وه تماشه نه وه

ژوندمي دزاهدترخنگه خوښ باله
څمکه وه تندی وو سجده نه وه

ولاړم دساقي په غیږکي ولویدم
مې وه دریابونه وه پیاله نه وه
ځان ته مې په ډکوسترگو وکتل
ژوندو زندگي وه آبده نه وه

مابه صدیقي ډیرڅه لیکلي وای
اوښکه وه میلمه وه کتابچه نه وه

# غزل

چمن دمیني دگلزاراشنا سو
یاردوختونوداغیاراشناسو

بیگاه مي خوله دیارنه وغوښتله
فکرونویوړ دانکاراشناسو

موږیې ساده ښایست پرزړه زخمي کړو
نوربه مو وژني دسینگاراشناسو
بورا وزر په اغزوخیري کړله
گلاب دمیني دمالیار اشناسو
زمانصیب خوماته ړوندښکاریدی
په کوموسترگو دیدار اشناسو

صدیقي خودبه درته ژاړي ضرور
قلم دشعر اودشعاراشناسو

# غزل

ماته خلاصون ماته نجات راکوه
یاره ژوندون یاره حیات راکوه

چې مې دخیال په غیږکې ولوبوي
تل دسروشونډومشروبات راکوه
ملنګه څه له مې په څنګ کې بیایې
یوښه دعاد خرابات راکوه
دعشق قاضي ترمحکمې درځمه
سوال کړم درحم اجرات راکوه
ناست یم دیدن یې ستا له دره غواړم
خدایه دصبر ثمرات راکوه
که سوم ملنګ صدیقي ستا دکلي
ښکلیه! دسروشونډوخیرات راکوه

# غزل

چې له هرچاد خوښی کړه ستنه سي
بې وفاسره یې ټینګه یارانه سي

نوریې نه ښکاري دسترګو په پردو کښې
بس یوه مینه په زړه کې نوشته سي
ټوله شپه یې دیارحسن ته کتلې
سهار اوښکه سي ګریوان ته را ایله سي
دې دنیاکې ځان تنهاورته ښکاریږي
که دزړه ښیښه دچاچیرته میده سي
یودسوي زړه آوازوي بل ځه نه وي
خوږمن زړه لره درمان یوه ټپه سي
په یوه امیدټول عمربانديي تیرسي
نه وصال سي نه خولګۍ نه تماشه سي
صدیقي تردې منزل رسیدل ګران دي
پریوه منزل پیدابله زینه سي

# غزل

زما د امید ستا د نفرت وختونه
تیرسول په جبر او زحمت وختونه

که ستا ښایست وخت تابع وي چیري
وي همیشه په حرکت وختونه
خاونده غم د ښکلو ښکلونه دی
په موږ ژړاکړي اکثریت وختونه
چي مي لیدل غمونه خوب کښي هغه
اړوي اوس په حقیقت وختونه
د نه راتلو ګیله چي وکړو ورنه
ښکلي په ځان کړي ملامت وختونه
ته د خلوت په غیر کښي اوسه شیخه
موږ هم لرو د عبادت وختونه
صدیقي زړه دي د باګرام قیدي سو
تیروي تل په اسارت وختونه
١٣٨٩\٢\٥

# غزل

جانان يې ستاموږبې جانانه ښه يو
داسي چي ګرځوبې درمانه ښه يو

مه راکوه پرسره پلنګ خوبونه
موږديار کلي کښي ستومانه ښه يو
موږدخپل اوښکوسمندرلاهوکړو
باران دي نه غواړو اسمانه ښه يو
يو پرانګاردمحبت ختلي
لاسونه مه راوړه هجرانه ښه يو
دعشق ګلان يوتل په مينه پايو
ثانګي مومه وهه باغوانه ښه يو

صديقي ژوندکښي چي مغروروه هغه
ښکلي راځي ترقبرستانه ښه يو

۱۳۸۹\۲\۵

# غزل

دیار راتګ نه په ژړانه په بلنه کیږي
زړګیه!بل څوک سته چي ستاپرې درملنه کیږي؟

دزړه کابل ته مي دښکلو وزیران راغلي
نن به هرومرو دعشق پکښي چاودنه کیږي
چي ښکلي ورک وي دکوم کلي بل څوک نه ګیروي
شک یې پرماوي لومړی زماڅخه پوښتنه کیږي
داچي هجران راته تربورغوندي پرپوله ګرځي
دزړه پته کښي مي ضرور دګل روزنه کیږي
لکه سایه چي ستاسره لوړ ي ژوري غواړي
داسي زمادنظرستاپسي څارنه کیږي

ضرورورڅمه صدیقي دیارترکلي پوري
که واقعاً زمادیارسره لیدنه کیږي

۱۳۸۹\۲\۶

# غزل

داګمان مکړه چې ټول عمرموخواږه ښلي
دوخت جامونه دي خوږوکښي موترخه ښلي

چې موذده کيږي همیشه دعشق دپانوتوري
دتوتکیوپه وزر کې مواوبه ښلي
داچې نشه یوتوروسترګوته موډیرکتلي
نه موځه بنګ نه موشراب نه موبل څه ښلي
زموږنه یې ژبې دباورپه توره غوځي کړلي
موږچې څوک خپل ګڼل هغوپه موږرانجه ښلي

چې پکښې اوسې دهنراودغزل خیالونه
صدیقي تل داسې جامونه خپل په زړه ښلي
۱۳۸۹\۲\۶

# غزل

چي ستادميني وخوندونو ته مي لاس واچوی
پوه سوم هغه ورځ چي غمونوته مي لاس واچوی

په ماتوی مي خپل تندی افسوس چي رايې نكړل
كاڼي مي غوښتل توروغرونوته مي لاس واچوی
دزړگي تنده مي شرابوماتولای نسوه
ځكه دسروشونډوسرونوته مي لاس واچوی
دفراق اوښكي مي پردې دنياچاپاكي نه كړې
دډيروښكلوگريوانونوته مي لاس واچوی
دبيلتانه طوفان اخيستی وم مجبورومه چي
ديار دغاړي آميلونوته مي لاس واچوی

ددې پوښتني جواب اوس هم صديقي نلرم
څه مي احساس كړه چي شعرونوته مي لاس واچوی؟

۱۳۸۹\۲\۷

## غزل

چي دماتم پراوښه بار راته راوړي غمونه
خدايه!داڅوک دی چي پرسرموتل ايږدي غمونه؟
موږدهرغم ددیگدان مالگه په نوبت څکلې
دازل تورومولیکلي پرتندي غمونه
پرهرمحل موجگي کړي دسلگیوخیمې
دهري خواسه میلمانه راته راځي غمونه
موږدخوښی په طمع ناست یودامید پرپلنگ
خوافسوس شپه کي راته غاړه راکوي غمونه
دوران دهرچادغمونوغوټۍ وچي کړلې
خویوپښتون دی تل په اوښکواوبوي غمونه
یوخواپرمځکه چادغم تخم پاشلی راته
بل خواموسربادي رالوېږي اسماني غمونه
صدیقي تاچي يې ترسیوري لاندي شپې کولې
هغه گلاب دي اوس پرخوادعوتوي غمونه
١٣٨٩\٢\١٠

# غزل

ښـــــــــکلو وهلي پــــــــــري چــــــاپې وې څکـــــــه غلــــــــى ومــــــه
دزړه مـــــــــــي مــــــــــاتي دروازې وې څکـــــــــه غلـــــــــى ومــــــه

دیارلــــــــه خوانـــــــه چـــــــي وریـــــــځ درحمــــــــت نـــــــه راتللــــــه
ښـــــــــبراوي ډیــــــــــري راپســـــــــې وې څکـــــــه غلــــــــى ومــــــه
ورځ مایوســـــــــــى کښـــــــــــــــي مازدیگرد انتظــــــــــاره ســــــــــره
شـــــــپې دفریادغیرکښـــــــي پرتـــــــې وې څکـــــــه غلــــــى ومــــــه
مابـــــــه بانـــــــه درتـــــــه پـــــــه لارکښـــــــي ســـــــلامي کړلــــــه خــــــو
ســــــــــتادراتگ لاري کــــــــــږې وې څکـــــــــه غلــــــــى ومــــــه
دوخــــــت غوښــــــتنه وه چـــــپ ناســــت وم څـــــه مــــي نـــــه ویلــــه
پـــــــــرزړه ســـــــــاتلي مـــــــــي گیلـــــــــې وې څکـــــــه غلــــــى ومــــــه

صـــــــــــــدیقي زیـــــــــــــاتي ښـــــــــــکلاگاني وې راغلـــــــــــى پـــــــــــرون
بیـــــــــامي دزړه ورلوتـــــــــه غلـــــــــې وې څکـــــــه غلــــــــى ومــــــه

۱۳۸۹\۲\۱۰

# غزل

پروت مې دفکر پرخنګل دی جانان
په زړه کښې زماترخنګ دبل دی جانان
څومره چې لیري دی منم لیري دی
څومره نژدې راسره مل دی جانان
مرۍ م ژوند دی سوم ځکه وپوهېدم
چې هم ژوندون دی هم اجل دی جانان
خیرکه اغزي ويې لمن نیولې
شین مې دمینې پرکودل دی جانان
خوبه راځې هجران په زورکلې ته
ناست دغمونو پرمورچل دی جانان
ماشوم زړګي ته مې ترشانه ګوري
خدایه!بې غوره دی پاګل دی جانان
داسې یې وکړل چې پردي نه کول
صدیقي تاویل چې خپل دی جانان
۱۳۸۹\۲\۱۳

# غزل

چې نه موغوښتل هغه وکړل ښکلو
پرزړه یې کاڼي رااوبه کړل ښکلو

ستوماني لاري دي کړه لنډي ژونده
نوردجفاوا ښکي اوږده کړل ښکلو
دډېروزړونو نه یې خوب واخیستی
ډېرې په خپل غیرکښې بیده کړل ښکلو
داچې ډېرډیرلروپرزړه داغونه
یو وخت ډېرډیر راته کاته کړل ښکلو
موږدکوم ظلم انتقام تري واخلو؟
ډیرارمانونه راته مړه کړل ښکلو

صدیقي ښکاري باندي ګران یې تاته
پسله دعا ترهرلمانځه کړل ښکلو
١٣٨٩\٢\١٣

# غزل

تاپسي ځي تالتهوي ستانه چاره نلري
زمانظربې له تاچيري ګذاره نلري

ګرانه دغم نه بغيرتاته اخيرڅه ووايم؟
زمازړګی له ښکلوداسي خاطره نلري
زړګيه نوربې وفادراتلولارمه څاره
هغه اوس بل جانان موندلی اجازه نلري
موربه دميني نه بغيرښکلوته بل څه ورکړو؟
خانان دعشق يوزړه موبله خزانه نلري
زماپه شان په دې دنياکي بل څوك سته داسي چي؟
پرمځکه سيوری او اسمان کي ستاره نلري

صديقي مابه ديارنوم پکښي اخيستی وای خو
افسوس غزل مي هومره ښکلي قافيه نلري
۱۳۸۹\۲\۱۴

# غزل

زمادعشق دلوبې دلوکلي
خدایه !ودان لري دښکلوکلي

زموږسلګویي بدرګه کول خو
یارپه خنداکښي پرېښودلوکلي
زمادغلام نظرباداره مه ځه
درپرېږدم خپل داوسیدلوکلي
ستادیادونودانګارپرمځکه
نیسي تصمیم زمادوژلوکلي
دومره پوهیږم ګرانه ته که نه وي
نه به وي دادنازولوکلي

په څه سبب دي صدیقي پرېښودئ؟
خپل دالهام دپارېدلوکلي
۱۳۸۹\۲\۱۴

## راځه

راځه د کلي او محل نه لیرې
د تورو غرونو زرغونه لمن کې
چیرته یو توره کیږدۍ
یوه سپېڅلې مینه
د هوسونو غیږکې
بیا د غه سترې زوکلیدلی ژوندون
بیرته له سره پیل کړو

لا به ترڅو لا به تر کومه وخته
ستا سود چم په دې سپېرو کوڅو کې
د تهمتونو په درنو جامو کې
دا سترې ژوند تیرو
اخرپښتون یم تا ته هم پته ده
مرگ تر پیغور ځان ته بهتره بولم
هسې نه گراني دا تنکۍ مینه مو
د رقیبانو ښکار سي
که چیري ستا خو ښه وي
هم دي د زړه رضا وي
نور انتظار نه کوو
کلی به دوی ته پریږدو
راځه د کلي او محل نه لیرې
ترینه په غلا به ولاړسو
بیا به ازاده گرځو
د تورو غرو چاپیره
د گړنگو چاپیره
کله روان او کله ناست یا ته وای
او ما د عشق په تیغ خیرلی سینه

*ستا د زلفانو په تار*
*په بیغمئ ګنډلای*
*خو!*
*غم ازنه لیدلای*

## اخیرنئ لیك

ښه یې په غورلوله
په اوښکولوندیې نکړې
شاید بل نه وي گوره
اخیرنئ لیك مې سي
رانه خفه چې نسې
درنه په څوټکوکښې
گوره خفه چې نسې
یوه غوښتنه کوم
که تاته یادوي چیرته
تابه ویله مدام
له ماچې څه وغواړې
حتٰی که زړه وغواړې
درنه یې نه گرځوم
ښه یې په غورلوله
خو!
زه درنه هیڅ نه غواړم
فقط په څوټکوکې
دهغه لیك په خواکې
دسپین کاغذپرپانه
دوسلام نه وروسته
فقط همداولیکه
چې!
زه م اوس جانانه
ستاسره مینه لرم
۱۳۸۸\۱۱\۱۴

پای

# صدیقي ته

صدیقي

هريو بيت دي هنرپاشي هرگفتار دي صديقي
هرغزل لکه شکري هراشعار دي صديقي

هر کلام دي ډك له عشقه تل الهام پکښي نخښږي
هراحساس دي دستايني هراظهار دي صديقي

دشعرناوې دي په ښومره زيب زينت ده سينگار کړې
هرپردی درته قايل دی او هريار دي صديقي

ستالونگ لونگ ځواني مې دنظر زړه ته شوه سي
سپړي ښاخ پرښاخ گلونه هرخسار دي صديقي

د ((سېلاب)) دزړه له تله دادعادرته راوځي
هرساعت دي لوی اخترسه هرسهار دي صديقي

په درنښت
عطامحمد سېلاب
هلمند لښکرگاه
۱۳۸۸\۳\۱۶

# ملګرې

عمر دي ډېر سه هر رقیب دي سه نا کام صدیقي
زه اوزړه دواړه خوښوو داستا کلام صدیقي
بریالیتوب دخدای له دره درته غواړم ګرانه
په دیدنو نودي رنګین سه هر ماښام صدیقي
دزړه خبره مې داستا په شعرکي څنګه راغله؟
درته کوم سلام سلام سلام صدیقي

ارمان مې دادئ چي دي ژوند دخوشحالیو ډك سي
اوزړګئ درکړي یار په ډول دانعام صدیقي

لمبه لمبه حسن دچادي په غزل کي پټ دی؟
چي اوربدل یې زماز ړګئ سوځي مدام صدیقي

سترګي مي لوړي دي په تا ای مینه ناك شاعره
وایي هلمند ډیردي لرمه احترام صدیقي

ته چي اوسېږې پکښې هغه بختور کلی دی
پردې ببرېږم پکښي زړه نه کړې لیلام صدیقي

ارام دزړه تاوان دورکوخوبوغواړي درنه
داچي روان دی پرسکروټواخلي ګام صدیقي

راځه چي کښېنو مازدیګر دښکلو ښکلو تر څنګ
چي دپردېس زړګي ته هم راسي الهام صدیقي

په درنښت
دلاورپردېس

# هلمند لښکرګاه